
اونیزه مجله :348
WEEKLY BOOKLET:348

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِیَه د کتاب "
د نیکئ دعوت" یو قسط

# د بني اسرائیلو د تباهئ اسباب

( PASHTO )




08 د دین دوه حصې دې ضائع کړې

10 د عِراق د مسلمانانو زړه څوکوونکې داستان

12 د قُرطبه په جامِع مسجِد کښې په لمونځ کولو پابندي

16 د مُحَدِّثِ اعظم پاکستان اِنفرادي کوشش



شیخ طریقت امیر اهل سنت د دعوت اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادری رضوی دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِیَه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون ”نیکی کی دعوت“ صفحه 528 تا 544 نه اخستے شوے دے

# د بني اسرائيلو د تباهئ اسباب

دُعائے عطار: ياربَّ المُصطفیٰ! خوک چې دا رساله ”د بني اسرائيلو د تباهئ اسباب“ ولولي يا واوري هغه د دواړو جهانو د بربادئ نه وساتې او سره د مور پلار يې جنت الفردوس ته بے حسابه داخليدل نصيب کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

د آخرى نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغې د ويرو او حساب کتاب نه زر خلاصے موندونکے هغه کس وي چا چې په تاسو کښې په ما باندې په دُنيا کښې ډير درود وئيلي وي. (مسندفردوس، 277/5، حديث:8175)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ✿✿✿ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د والِد صاحِب ترکيب جوړ شو نو په کور کښې دِيني ماحول جوړ شو

صرف ځلمي کس ته د نيکئ د دعوت ورکولو توَجُّه ولې؟ د کور په مشرانو باندې د توجُّه کولو زيات ضرورت دے که هغوئي په ترکيب کښې راغلل نو په کور کښې په تيزئ سره **دِيني ماحول** جوړيدے شي او په ټول خاندان کښې د نمونځونو او سُنّتو سپرلي راتلے شي، د دې خبرې تصديق د دې **مَدَني سپرلي** نه کيدے شي څنګه چې (د پاکستان) د ضِلع قُصُور د تحصِيل **پتوکـي** د يوې اسلامي خور د بيان خلاصه ده چې د معاشرے د ډيرو کورونو په شان زمونږ په کور کښې هم په ټيوي باندې فلمونه، ډرامے او د ګناهونو ډک پروګرامونه کتلے شو، په داسې

سپيره صورتِ حال کښې په کور کښې دِيني ماحول څنګه جوړيدے شو! زمونږه خوش قِسمتي چې د ټولو نه مخکښې زما مشر ورور د دعوتِ اسلامي په دِيني ماحول کښې شامل شو، هغه به مونږه ډير پوهه کولو، ډير زيات **اِنفِرادي کوشش** به ئې راباندې کولو خو مونږه به پرې څه غوږ نه ګرَوَلو. په کور کښې د **ټي‌وي** د موجودګئ په وجه به هم مشر ورور **پريشانه** اوسيدو، ځکه چې دا په کور کښې د سُنَّتو ډک ماحول جوړيدو کښې يو ډير غټ خنډ [رُکاوټ] وو، هغه **ټي وي** د کوره وِيستل غوښتل خو هيڅ ئې هم نه شو کولے. يوه ورځ مونږه په کور کښې په **ټي‌وي** باندې د ډرامے کتلو نه چې څنګه وزګار شو نو مشر ورور مو راغلو او هغوئي په ټيپ ريکارډر باندې د **مَکتَبَۃُالْمَدِيْنَه**جاري کړے د سُنَّتو ډک د بيان يو کيسټ اُولګولو. د بيان انداز ډير زړه راښکونکے وو نو ځکه مونږه په ډيره توجُّه سره اوريدلو. په هغه بيان کښې چې کله مُبَلِّغ د **ټي‌وي تباه کارئ** بيان کړې نو مونږه د آخِرت د بربادېدو د انديښنې په وجه ډير وَيَريدو، خاص طور والِد صاحِب خو د ويرې نه په **رپيدو** شو. چې کله بيان ختم شو نو والِد صاحِب په اوچت آواز کښې خپله فيصله واورَوَله چې: نور به په دې کور **کښې ټي‌وي نه چليږي**. د کور ټول کسان په هُم هغه ساعت بام [يعني چت] ته وختل او د ټي‌وي انټينا ئې غوزاره کړه او ټي‌وي ئې **د کوره اُوويستو**. څه ورځې پس مې وړوکے ورور پلار ته د **ټي وي** بيا راوړولو مطالبه اوکړه خو پلار مې د جوش په انداز کښې اُووئيل: **نور به په دې کور کښې يا ټي وي وي او يا به زه يم.** دا ئې چې واوريدل نو ورور مې **ټي‌وي** يادول پريښودل. دغسې د **دعوتِ اسلامي** په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰه زمونږه کور د فِلمونو ډرامو او سندرو د سپيره والي نه پاک شو او ټولې کورنئ د **دعوتِ اسلامي دِيني ماحول** سره تړون اوکړو.

تِرا شکر مولا دِيا دِيني ماحول ‌ ‌ ‌ نہ چُھوٹے کبھی بھی خدا دِيني ماحول
سلامت رہے يا خدا دِيني ماحول ‌ ‌ ‌ بچے بد نظر سے سدا دِيني ماحول

(وَسائلِ بخشِش)

شکر دے ستا مولا راکړو تا دِيني ماحول | هيڅ کله چې پرېږ نه دم يا خُدا دِيني ماحول
سلامت لرې هر دَم يا خُدا دِيني ماحول | بچ لرې د بد نظر نه سدا دِيني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# مَدَني چينل

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! دا **مَدَني سپرلے** غالِباً د هغه وخت دے چې د عالَمِ اِسلام سل فيصده شَرعي چينل يعني "**مَدَني چينل**" لا نه وو جاري شوے. د ټي‌وي په غيرِ اِسلامي نشرياتو لکه فلمونو، ډرامو، سندرو او باجو، د زنانؤ په نُمائِشونو، د سازونو په غږېدو. په زنانؤ او سازونو ککړو خبرونو او په نورو غير اخلاقي پروګرامونو زه نه مخکښې راضي ووم او نه پرې اوس راضي يم، هر هوښيار مسلمان په دې پوهېږي چې زمونږه د معاشرے په تباهئ کښې د ټي‌وي ډير لوئے کردار دے! د دعوتِ اِسلامي **مُبَلِّغِين** د ټي‌وي د تباهيانو خِلاف ښه پوره مُهِم وچلوو، په دې کوششونو کښې څه نا څه کاميابي هم وشوه چې د هغې يو ثبوت دا ذِکر شوے **مَدَني سپرلے** هم دے، خو په دې زمانه کښې په زړو کښې شايد چې تقريباً (999) مسلمانان د ټي‌وي شوقيان شوي دي او غالِب اکثريت د دُنيا او آخِرت د ښه او بد نه بے پرواه د ټي‌وي د غير شَرعي او غير اخلاقي نشرياتو په کتلو کښې مشغول دے. د مسلمانانو د ټي‌وي د کتلو د ليونتوب د حده پورې د شوق لرلو په وجه شيطان د هغوئي د کردار سره سره د هغوئي په اِسلامي اَقدارو هم حملې کوي. د اِبلِيس په تحرِيک د اسلام په جامو کښې پټ بعضې خلق اِسلام هم په ماډرن [يعني فيشني] انداز کښې د وړاندې کولو په غلطو کوششونو کښې مصروف دي، د اِسلام حقيقي رُوح د مسلمانانو د زړونو نه د وِيستلو کوششونه کيږي اوس که مونږه په جُماتونو وغيره کښې د ټي‌وي تباهئ بيان هم کړو نو د اوريدونکو شمير خومره وي؟ ځکه چې په مُشکله به 5 فيصده مسلمانان نمونځ کوي، په هغوئي کښې هم يو نِيم د مذهبي بيان اوريدو شوق لري، د دې نه علاوه اسلامي خويندو ته بيان څوک واوروي؟ که څه پرچې وغيره چاپ کړو نو د دِيني

مطالَعه کوونکو شمیر د مایوسه کوونکي حده پورې کم دے! په دې ناسازه حالاتو کښې مونږ ته د دې خبرې ډیر زیات احساس اوشو چې که د مسلمانانو د اصلاح کولو دائِره صرف د جُماتونو او د اجتِماعاتو د حده پورې ساتو نو د اُمّت غالِب اکثرِیّت ته زمونږه د درد نه ډک مَدَني پیغام هډو رسیدے نه شي او شیطاني طاقتونه به په یو طرفه طور د خپلو مُختَلِفو چینلو په ذریعه د مسلمانانو د ګمراه کولو سلسله جاري ساتي. اغلب [یعني ډیر زیات] ګُمان دا دے چې د مسلمانانو د کورونو نه ټي وي وِیستل مشکل څه چې تقریباً ناممکن دي، بس صرف یو صورت ښکاره شو او هغه دا چې څنګه په دریاب کښې سیلاب راشي نو د هغې مخ پټو وغیره ته د اړَوَلو کوشش کیږي چې پټي هم اوبه شي او آبادئ هم د بربادئ نه بچ کړے شي، بالکل هم دغسې د ټي وي په ذریعه راغلي د بدتمیزئ د طوفان د مخ نِیوي د کوشش د پاره **هم د ټي وي په ذریعه د مسلمانانو کورونه ته داخِلیدل اوشي** او هغوئي د غفلت د خوب نه رابیدار کړے شي او د ګناهونو او د ګُمراهو د سیلاب نه خبردار کړے شي. چنانچه کله چې دا معلومه شوه چې خپل داسې **ټي وي چینل** شروع کول ممکن دي چې په هغې د فلمونو، ډرامو، سندرو، باجو، سازونو او د زنانه د ښودلو نه بچ کیدل او **100 فیصد اسلامي** مواد ښودل ممکن دي نو **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دعوتِ اسلامي **مرکزی مجلِسِ شوریٰ** په ډیر زیات جدّوجَهد [یعني کوششونو] په رَمَضَانُ الْمُبَارَک (1429ھ بمطابق 2008ء) کښې د **مدني چینل** په ذریعه کور په کور د سُنَّتو پیغام عام کول شروع کړل او ډیر زر د یورپي مُلکونو سره سره د دُنیا په بیشمیره ملکونو کښې په ټي وي باندې **مدني چینل** کتل شروع شو او د انټرنیټ په ذریعه د دې لِیک د وخته پورې د دُنیا ډیرو مُلکونو کښې **مدني چینل** داخل شوے دے او دغسې تقریباً یو نیم سل مُلکونو ته د دعوتِ اِسلامي پیغام رسیدلے دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه د مدني چینل حیرانونکې مدني نتیجې راتلَل شروع شوي دي. یقیناً د دې په دې برکت خو ماشوم هم پوهیږی چې تر څو پورې په **ټي وي مَدَني چینل** په کور یا دفتر وغیره کښې چلیږی نو کم از کم د هغه وخته پورې خو به مسلمانان د ګناهونو نه ډکو

چينلو نه بچ اوسي! اَلْحَمْدُلِلّٰه **مَدَني چينل** سل فيصده اسلامي چينل دے، نه په دې کښې موسيقي شته او نه پکښې د زنانه نُمائِش. په دې کښې کاروباري اِشتِهارونه (مشهوري) هم نه ښودل شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه د دې اَخراجات [يعني خرچې] د مُخَيَّرو[1] مسلمانانو په عطياتو [يعني چنده] پوره کيږي. په **مَدَني چينل** کښې څه دي؟ په دې کښې د فيضانِ قُرآن، فيضانِ حديث، فيضانِ انبياء، فيضانِ صحابه او د فيضانِ اولياء معلوماتي رُوح تازه کوونکې سلسلے دي، په دې کښې تِلاوتونه، نعتونه، منقبتونه او د دعوتِ اِسلامي مَدَني خبرونه او مَدَني خاکے دي، په دُعا او مُناجاتو کښې د ژړا او زارئ زړه نرموونکي او په عشقِ رسُول کښې د ژړلو او ژړوونکي رِقّت انګيز منظرونه دي، دارُ الاِفتاء اَهلِسُنَّت، روحاني عِلاج، د سُنَّتو ډک **مَدَني ګلونه** او د آخِرت بهتر جوړَوَلو والا **مَدَني سپرلي** دي. په دې کښې د سُنَّتو ډک اِجتِماعات، مَدَني مذاکرے، مَدَني مُکالَمې، د سحر په وخت کښې "کھلے آنکھ صَلِّ عَلٰی کہتے کہتے" وغيره ډيرې سلسلې براهِ راست (LIVE) [يعني نيغ په نيغه] ښودلې شي. الغَرَض **مَدَني چينل** يو داسې چينل دے چې د دې په ذريعه انسان په خپل کور کښې ناست ښه ډير عِلمِ دِين زده کولے شي! د **مَدَني چينل** د مَدَني سپرلو به څه وائې! اَلْحَمْدُلِلّٰه د **مَدَني چينل** په کتلو ډيرو غير مُسلِمو ته د اِيمان دولت نصيب شو، او خدائے خبر چې څومره "بيلمانځه خلق"نمونځ ګُزاره جوړ شو، ډيرو خلقو د ګناهونو نه توبه اوکړه او د سُنَّتو ډک ژوند تيرول ئې شروع کړل. [هم دغسې] يو **مَدَني سپرلے** اُوګورئ.

## چې کله ما ته د مَدَني چينل د کتلو سعادت نصيب شو

د **فيصل آباد** (پنجاب، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره د تړون نه مخکښې زه يو لوفر او جنګيرے ځلمے ووم. اخلاق مې دومره کمزوري شوي وو چې په بدنظرئ [يعني غيرو زنانؤ ته په کتلو] کښې ما د هيڅ قِسم شرم نه محسوسولو، نه مې چا ته سلام کول

---

[1] دخير په کارونو کښې د خرچ کوونکو

غوښتل او نه مې د چا ادب کولو، غرض دا چې د سُنّتو د لارې نه ډېر لرې د ګناهونو په خټو کښې لت پت پروت ووم. آخِر د رحمتونو ډکې هوا زما کور ته هم **مخه** اوکړه، **هغه** داسې چې يو ځل په خوش قِسمتئ سره ما ته د **مَدَنې چينل** د کتلو سعادت نصيب شو، د خدائے شان اُوګورئ چې زما په شان په ګناهونو کښې د اخته انسان هم دا دومره خوښ شو چې ما هره ورځ د دې **مختلِفې** مَدَنې سلسلې کتل شروع کړې. د **مَدَنې چينل** د ټولو نه وړومبے اثر په ما دا ښکاره شو چې اَلْحَمْدُلِلّٰه ما د **نمانځه** د پاره جُمات ته تلَل شروع کړل. هلته مې يوه ورځ د يو عاشِقِ رسول د سُنّتو پابند يو مُبَلِّغ دعوتِ اِسلامي سره ملاقات اوشو، د هغوئي سره په ملاقات کولو زما زړه ته ډېر سکون حاصِل شو. هغه اِسلامي ورور يوه ورځ زما دُکان ته تشريف راوړو او ما ته ئې د "**نيکئ دعوت**" را کړو. د هغه د "نيکئ د دعوت" په بَرَکت ما په ژوند کښې وړومبې ځل د **دعوتِ اِسلامي** په هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې شِرکت اوکړو. هلته کيدونکې تِلاوت، **نعت** شريف، د سُنَّتو ډک بيان، د ذِکرُالله آوازونو ما ته ډېر خوند را کړو، د اِجتِماع په آخِره کښې کيدونکې رِقّت انګيزه [يعنې ژړوونکې] دُعا خو زما دومره خوښه شوه چې زه په **دعوتِ اِسلامي** عاشِق شوم، د هغې نه پس زما داسې حالت شو چې چرته به مې د عمامې او سپين لِباس والا **عاشِقانِ رسُول** ليدل نو سترګې به مې يخيدلې. بيا د دِينې ماحول په بَرَکت اَلْحَمْدُلِلّٰه ما د **سرکارِ مَدينه** صلی اللہ علیہ والہ وسلم د **محبَّت** نښه ګِيره مُبارکه هم پريښودله. د **الله** پاک په رَحمت مې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک (1430ھ) کښې د دعوتِ اِسلامي په انتِظام کښې کيدونکې د يوې مياشتې په اعتکاف کښې د ناستې سعادت هم حاصل کړو. خپل دوه ورِيرونه مې هم په **مَدرَسةُالْمَدينه** کښې د قُرآن شريف د حِفظ کولو د پاره داخِل کړې دي، ما په خپل دُکان کښې **دَ فيضانِ سُنَّت** درس هم شروع کړے دے. **الله** پاک دې دعوتِ اسلامي ته شپه او ورځ ډيره زياته ترقّي ورکړي ولې چې دوئي دومره ښکلے **مَدَني چينل** جاري کړے دے چې زما په شان په ګناهونو کښې د اخته کس اِصلاح پرې وشوه، زما وړو وړو بچو ته د **مَدَني چينل** کتلو په وجه شايد دومره معلومات دي چې هغه ما ته اوس په دې عُمر کښې حاصل شو. "**واه څه به وائې د مَدَني چينل**."

مَدَنی چینل سُنّتوں کی لائیگا گھر گھر بہار       مَدَنی چینل سے ہمیں کیوں والہانہ ہو نہ پیار

مَدَنی چینل کی مُہِم ہے نفس وشیطاں کے خلاف
جو بھی دیکھے گا کریگا اِن شاء الله اِعتِراف
راہِ سنّت پر چلا کر سب کو جنّت کی طرف
لے چلے بس اِک یہی ہے مَدَنی چینل کا ہَدَف
(وسائلِ بخشش ص۶۰۵)

مَدَني چينل به جاري کړي کور په کور درسِ سُنّت
نو ولې به مونږ نه کړو د دې سره محبّت
د مَدَني چينل مُهِم دے د نفس او د شيطان خِلاف
څوک ئې چې هم ګوري نو کوي به اِن شآء الله اِعتِراف
چې روان کړي په لار ټول د سُنّت د جَنّت په طرف
ټول بوځي بس هم دا دے د مَدَني چينل هدف

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بني اِسرائِيلو د تباهئ اسباب

د **حضرتِ** سَيِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ مسعود رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې **د دواړو جهانو د سردار** صلی اللہ علیہ والہ وسلم د عِبرت نه ډک ارشاد دے چې: په **بني اِسرائيلو** کښې چې د ټولو نه **مخکښې** په (دِين کښې) نقصان راغلے هغه دا وو چې د يو کس به د بل سره ملاقات کيدو او (د هغه د يوې ګناه ليدلو په وجه به ئې) هغه ته وئيل: د **الله** پاک نه وَيَريږه او داسې مه کوه ولې چې دا ستا د پاره حلال نه دي. صبا به ئې په ګناه کولو د ليدلو باوجود، د هغه سره د خپلو تعلُّقاتو، [د يو ځائے] خوراک څښاک او ناستې ولاړې په وجه هغه نه منع کولو، چې کله (عام طور) هغوئي داسې اوکړل نو **الله** پاک د هغوئي زړونه د يو بل سره ګډ وَډ کړل. (يعني د نافرمانه خلقو د سيپره والي په وجه د فرمانبردارو زړونه هم د هغوئي په شان شو) بيا **حُضُور سرورِ کائِنات** صلی اللہ علیہ والہ وسلم [د دې حديث] په تائيد کښې د قُرآنِ کريم دا آيتونه اولوستل:

لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۷۸﴾ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۹﴾

(پ:6، المآئدة: 78، 79)

[مفهوم]ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: بني اسرائيلو نه چې کومو خلقو کُفر اوکړو په هغوئي باندې د **داؤد** او عيسىٰ بن مريم په ژبه لعنت اوکړے شو. دا لعنت په دې وجه وو چې هغوئي نافرماني اوکړه او هغوئي به سرکشي کوله. هغوئي به يو بل د کوم بد کار نه نۀ منع کولو کوم به چې هغوئي کولو. بيشکه هغوئي به ډير بد کارونه کول.

بيا سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: قَسم په خُدائے! تاسو ضرور **د نيکئ حُکم** ورکوئ او د ګناهونو نه منع کوئ او ظالِم د ظُلم نه منع کوئ او هغه د حق خبرې طرف ته راښکارېئ، ګنې **الله** پاک به ستاسو زړونه هم ګډ وډ (يعني د نافرمانه خلقو د سپيره والي په وجه د هغوئي په شان) کړي او په تاسو به هم لعنت اُوفرمائي، څنګه ئې چې په هغوئي لعنت فرمائيلے وو.
(اَلسُّنَنُ الْکُبْرٰی لِلْبَیْهَقِی ج10 ص159 حديث 20196، ابوداؤد ج4 ص162، 163 حديث 4336، 4337)

د بيان شوي حديثِ مبارکه نه لاندې په "**مِراٰةُ الْمَنَاجِيح**" کښې دي چې: سرکارِ دوعالَم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم د خپل اُمّت اِختيار لرونکي او عُلَماء **مُتَنَبِّه** (يعني خبردار) کړل چې تاسو له د داسې کولو نه ځان ساتل ضروري دي او د بدئ کوونکو لاس نيول ضروري دي، د مُنافَقَت (يعني د بدئ ختمولو د قدرت لرلو باوجود د بے ننګئ) او مُداهَنَت (يعني د لالچ يا د جانِبدارئ په وجه د خاموشه پاتې کيدو) نه د کار اغستو په ځائے د غيرتِ اِيماني مُظاهَره کول او د **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر** په باره کښې خپلې ذِمّه وارئ پوره کول ضروري دي، د ظالِم لاس نيول او هغه د حق په لاره راوستل ضروري دي ګنې تاسو به هم د بني اِسرائيلو په شان د لعنت حقدار وګرځئ.

(مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج6 ص513)

ياخدا! نيکيوں سے الفت نيکيوں سے پيار دے
جو کرے بديوں سے نفرت وہ دل اے غفّار دے

يا **الله** راكړې د نيكئ سره مِينه مَحَبّت راكړي داسې زړه چې كوي د بدئ نه نفرت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دِين دوه حصّے دې ضائِع كړې

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرتِ **سيِّدُنا عُمَر فاروقِ اعظم** رضی اللہ عنہ په خِدمتِ بابَرَكت كښې يو كس حاضر شو او عرض ئې اوكړو چې: زه د دوو نه علاوه د نيكئ ټول كارونه كووم. اوئې فرمائيل: هغه **دوه كارونه** كوم كوم دي؟ عرض ئې اوكړو: (1) زه چا ته د نيكئ حُكم نه وركووم او (2) څوک د بدئ نه نه منع كووم. ارشاد ئې اُوفرمائيلو: تا د دِين **دوه حصّے لرې** [يعني ضائِع] كړې، اوس د **الله** پاک خوښه ده كه ستا بخښنه كوي او كه تا په عذاب كښې اخته كوي.
(اَحكامُ القُرآن لِلْجصاص ج2 ص612)

اللہ میں دیتا ہی رہوں نیکی کی دعوت
ایسا مجھے جذبہ دے پئے شاہِ رسالت

الله چې وركووم زه هر دم د نيكئ دعوت راكړې جذبه داسې په خاطر د شاهِ رِسالت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# بے وسه مسلمانان

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د نيكئ دعوت پريښودونكے او نور خلق د بدو نه نه منع كوونكے په ډير غټ نقصان كښې دے. نن صبا چې د مسلمانانو څنګه حالت دے هغه د چا نه پټ نه دے، هر طرف ته د بے عَمَلئ دور دوره ده، عُموماً څوک يو بل په خطاګانو باندې د رټلو د پاره تيار نه دي، مسلمان عملي طور د تَنَزُّل [يعني مخ په ښكته] جَوَرې كندې ته په تيزئ سره غورزيږي، د پاک و هِند د مسلمانانو حالت خو شايد اوس هم غنِيمت دے كه نورو **اِسلامي مُلكونو** ته لاړ شئ نو د مسلمانانو په حالت ليدلو كه د وِينو اوښكې توئ كړئ نو هم كمه ده.

# اولاد ته سُنّتونه زده کړئ ګنې پښيمانه به ئې

**اَلْحَمْدُلِلّٰه رَجَبُ الْمُرَجَّب** 1406ھ کښې سګِ مَدِينه عُفِيَ عَنْهُ ته د کربلائے مُعلّٰی او بَغداد شريف وغيره د مُقَدَّسو ښارونو د حاضِرئ سعادت نصيب شو، خو آه! د هغه ځائے د مسلمانانو د خراب حالت د بيانَولو مې ژبه او قلم طاقت نه لري، خو بيا هم يو څو خبرې د دې د پاره عرض کووم چې مونږه د **اللّٰه** پاک د قهر و غضب نه وَيَريږو او **اللّٰه** پاک دې اوکړي چې **د نيکئ د دعوت** عام کولو د پاره ملا وتړو، هسې نه چې زمونږه راتلونکي نسلونه تباه او برباد شي او ډير بد انجام ته ورسي! ځکه چې حالت هم دغسې دے. موجوده تعليمي ادارے او د هغې ماحول، د مور او پلار صرف يو خواهِش وي چې بچې مې دُنياوي تعليم حاصِل کړي او پوره ماډرن جوړ شي او ښه ډير دولت وګټي، اګر چې [کيدے شي] چې د مغرِبي تهذيب [رسم و رواج] خوښونکے ماشوم چې کله ځلمے شي نو د مور او پلار نه مخ واړوي، يا د ځلمي کيدو نه مخکښې د مرګ غيږې ته لاړ شي او د مور او پلار د هغه د دولت ګټلو او خوړلو ارمانونه په خاورو کښې ګډ شي، د دې نه علاوه زمونږ د ملک ذرائِعِ اِبلاغ (MEDIA) هم د اسلام په ښکلو اُصولو مسلسل خطرناکې حملې کوي، که هم داحالت وو نو زمونږه د راتلونکو نسلونو د هلاکت نه د بچ کيدو په ظاهِره څه لاره نه ښکاري.

اے خاصۂ خاصانِ رُسُل وَقتِ دُعا ہے — اُمّت پہ تِری آ کے عَجَب وقت پڑا ہے
جو دِین بڑی شان سے نکلا تھا وطن سے — پردیس میں وہ آج غریبُ الغُرَبا ہے
وہ دِین ہوئی بزمِ جہاں جس سے فَروزاں — اب اُس کی مجالس میں نہ بتّی نہ دِیا ہے
ڈر ہے کہیں یہ نام بھی مِٹ جائے نہ آخر — مُدّت سے اِسے دَورِ زماں مَیٹ رہا ہے

فریاد ہے اے کشتیٔ اُمّت کے نگہباں
بَیڑا یہ تباہی کے قریب آن لگا ہے

**د شعرونو ترجَمه:** (1) اے په رسولانو کښې خاص رسوله! د دُعا وخت دے، ستاسو په اُمَّت باندې ډير

عجيبه وخت راغلي دے. (2) کوم دِين چې په لوئے شان سره د وطن نه وَتلے وو، په پرديس کښې نن د هغې هيڅ تپوس نشته. (3) هغه دِين چې په هغې ټول جهان روښانه شوے وو، نن د هغې په مجلِسونو کښې نه رڼـا شته او نه ډيوه. (4) ويره ده چې آخِر چرې د دې دا نوم هم ختم نه شي، ولې چې د ډيرې مودې نه د دې د ختمولو کوشش کيږي. (5) اے د اُمَّت د کشتئ نګهبانه! فرياد دے، دا کشتئ غرقيدو ته نِزدې شوې ده.

## د عِراق د مسلمانانو زړه خُوګوونکے داستان

اوس د عِراق شريف د يو څو ورځو د سفر په باره کښې هغه خبرې بيانووم چې د هغې په اوريدو د اسلام د درد لرونکي ځيګر ټُکړې ټُکړې کيږي. چنانچه مونږه **درې اِسلامي وروڼـه** په عِراقي جهاز کښې د کراچئ د بَينَ الاقوامي اډے [اِئر پورټ] نه سواره شو، جهاز دوه ګينټې ناوخته والوَتو، جهاز لا په هوا کښې وو چې د ماښام د نمانځه وخت شو، مونږه په جهاز کښې اذان اوکړو او د جَمعې سره مو نمونځ ادا کړو، د نمانځه نه چې فارِغ شو او خپلو سِيټونو طرف ته راتلو نو عِراقي مسافرانو مونږ ته په ډيره حيرانتيا کتل او په نمانځه کولو ئې مونږه ته د نمانځه د قبولِيَّت او د بَرَکت دُعاګانې کولې، لکه مونږه چې چرې ډير غټ کمال کړے وي! په دې مونږ ته دا اندازه وشوه چې دوئي نمونځ نه کوي خو نمونځ خوښوي ضرور او عِراق شريف ته چې ورسيدو او جُماتونه مو خالي اوليدل نو هم دا اندازه راته وشوه چې په زرو عِراقيانو کښې به چرې يو نِيم مسلمان نمونځ کوي!!

## د نمانځه په ځائے کښې سندرې او سازونه

چې کله مونږه د عُرُوسُ الْبِلاد بغداد شريف په بَينَ الاقوامي مَطار [يعني اِئير پورټ] کوز شو او د ماسخوتن د نمانځه لپاره د مَطار (AIR PORT) يو جائے نَماز [د نمانځه ځائے] ته ورغلو نو تاسو يقين اوکړئ چې د هغه جائے نَماز [د نمانځه ځائے] په دننه چت کښې سپيکر لګيدلے وو او باقاعِده د **سازونو** سره پکښې سندرې غږيدلې.!! آو بالکل هغه ځائے د نمانځه د پاره **مخصوص**

وو او په هغې ئې بهر په ښکاره الفاظو کښې ليکلي وو: **هٰذابَيۡتُ‌الله** يعني ”دا د **الله** پاک کور دے.“ مونږه حيران پاتې شو، مونږه ناشنا مسافر وو په زړه کښې د بدو ګنهلو نه سِوا مو څه کولے شو! په داسې موقع باندې د بدو نه په منع کولو چې څوک قدرت نه لري نو هغه ته پکار دي چې هغه بد کار په زړه کښې ضرور بد وګڼي. څنګه چې په حدِيثِ پاک کښې دي: ”چې کله په زمکه ګُناه اوکړے شي نو چې څوک هلته موجود دے خو هغه بده ګڼي هغه د هغه په **شان** دے څوک چې هلته نشته. او څوک چې هلته نشته دے خو په هغې راضي دے هغه د هغه په **شان** دے څوک چې هلته حاضِر دے.“ (سُنَنِ ابی داؤد ج4 ص166 حديث 4345)

کیاتماشاہے کہ اب ناقہ سُوارانِ عرب　　　پیروی کرتے ہیں یورپ کے حُدِی خوانوں کی

څه تماشه ده چې اوس په اُوښه سوَرو عربو　　　انداز اختيار کړو د يورپ د سندرغاړو

## د کوفې په جامع مسجد کښې جُمُعه نه کيږي

آه! د کوفې هغه جامِع مسجِد چې د هغې سره لګيدلے د حضرتِ مولائے کائِنات، عَلِیُّ الۡمُرتَضٰی شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ مزارِ مُبارک دے، هلته د زيارت د پاره مونږه د جُمعې د نمانځه په وخت کښې حاضِر شو، د زيارت کوونکو ډيره زياته ګڼه وه. چې تپوس مو اوکړو نو معلومه شوه چې **دلته يو نمونځ هم د جَمعې سره نه کيږي**، تر دې چې د جُمعې نمونځ هم پکښې نه کيږي ........!!

## تول کِيره خَرَوونکي

په **بغدادِ مُعَلّٰی** کښې مونږ ته د دې خبرې ډير زيات اِحساس اوشو چې د دې ځائے مسلمانان د **مُسلماني شعائِرو** سره بالکل نابَلده شوي دي، ځکه چې عام طور يو مقامي اوسيدونکے کس د سره کِيره نه پريږدي، تر دې چې اِمامان، مُؤَذِّنان وغيره تول کيره خَرَوونکي وو!! ولې چې مونږ درې واړه ګيرو والا وو او عمامې مو په سر وې ځکه به چې مونږه د بغدادِ مُعَلّٰی کوڅو ته اُووَتلو نو خلقو به مونږ ته په ډيره حيرانتيا سره کتل او کله کله خو به دا نوبت راغے چې زمونږ نه به راتاو شو او دا عجِيبه تپوس به ئې را نه کولو: ”هَلۡ اَنۡتُمۡ

مُسْلِمُونَ؟“ يعني آيا تاسو مسلمانان ئې؟ چې کله به مونږه اِقرار اوکړو چې ”اَلْحَمْدُلِلّٰه نَحْنُ مُسْلِمُونَ“ يعني اَلْحَمْدُلِلّٰه مونږه مسلمانان يو“ نو هغوئي به خوشحاله شو او مخکښې به تير شو.

## د شهادت په خوشحالئ کښې د زنانۀ ګډا

يو ځل ”بابُ الشَّيخ“ يعني د شَهنشاهِ بَغداد، **حضورِ غوثِ اعظم** رحمۃ اللہ علیہ د مزار مبارک والا په کوڅه کښې يو ډير زيات بے هوده او شرمناک منظر وو، ډولکې وهل شو، سُرنې غږيدل او د خلقو ډيره ګڼه وه او په مينځ کښې ئې بے پرده زنانه ګډيدلې، څه کسانو جنازه راغستې وه. دا منظر مو چې اوليدلو نو مونږه ډير حيران شو. چې تپوس مو اوکړو نو معلومه شوه چې دلته دا دَستور دے چې کله يو مسلمان د عِراق او اِيران په روان جنګ (چې په هغه ورځو کښې جاري وو) کښې شهيد شي، د هغه خپلوان د هغه شهيد جنازه د حضور سَيِّدُنا **غوثِ اعظم** رحمۃ اللہ علیہ روضې مبارکې ته د حاضِرئ د پاره راوړي او د هغه مَردِ مُجاهِد د ”**شهادت په خوشحالئ**“ کښې د هغه د خاندان زنانه دغسې په سرکونو باندې د جنازې سره سره په روانه ګډا کوي.!!

درسِ قرآں اگر ہم نے نہ بُھلایا ہوتا      یہ زمانہ نہ زمانے نے دِکھایا ہوتا

درسِ قُرآن که هير کړے نه وو مونږه      په زمانه کښې به رُسوا شوے نه وو مونږه

## د قُرطبه په جامِع مسجِد کښې په نمانځه کولو پابندي ده

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د عِراقي مسلمانانو په حالت ليدلو مې زړه ډير خفه شو، کاش! چې هلته څه داسې مَدَني تحريک راپورته شي چې هغه **د نيکئ دعوت** عام کړي او يو ځل بيا هلته **سُنّتونه** عام شي او مسلمانان خپل پخوانے شان و شوکت بيا حاصِل کړي. په **قُرطُبه** کښې نن چې کوم ځائے جامِع مسجِد موجود دے، په دې ځائے د بُت پرستو په زمانه کښې د هغوئي عبادت خانه وه، چې کله په اِسپين کښې عِيسائي مذهب خور شو نو هغوئي هغه ورانه کړه او په هغه ځائے ئې **کلِيسا** [د عِيسايانو عِبادت خانه] جوړه کړه. چې کله مسلمانانو **قُرطُبه** فتح کړه نو کلِيسا د صُلح د شرائِطو مطابِق په دوه حِصُّو کښې تقسيم کړے شوه په يوه حِصّه

کښې مسلمانانو ”کلِيسا“ پرېښوده او په بله حِصّه ئې ”جُمات“ جوړ کړو. خو چې کله **قُرطُبه** د مسلمانانو دارُالسَّلطَنت [دارُ الخِلافه] وټاکلې شوه او د دې ځائے [د مسلمانانو] آبادي په تېزۍ سره زياته شوه نو د جُمات حِصّه د مسلمانانو د پاره تنګه شوه تر دې چې کله د **عَبدُ الرَّحمٰن اَلدَّاخِل** حکومت راغے نو هغوئي ته د جامِع **قُرطُبه** د توسِيع [د فراخۍ] سوال وړاندې کړے شو، کلِيسا په جُمات کښې د شامِلولو نه بغير جُمات غټول نه شو کيدے، د دې د پاره عَبدُالرَّحمٰن اَلدَّاخِل د عِيسايانو نه زمکه په بيعه واخسته. غټه زمکه حاصِلولو نه پس هغوئي د جامِع قُرطُبه مسجِد تعمِير د نوي سر نه شروع کړو، د جُمات نقشه ډېره عظِيمُ الشّانه وه او د هغې سر ته د رَسَولو د پاره ډېره موده پکار وه خو عَبدُالرَّحمٰن اَلدَّاخِل دوه کاله کښې (په 172ھ) کښې وفات شو د هغوئي نه پس د هغوئي ځوئ **هَشّام** تعمِير جاري وساتلو، وروسته بيا د **بني اُمَيَّه خُلَفاؤ** د دې جُمات نوره توسِيع [غټول] ډېر ځله اوکړه، تر دې چې تعميري کار په 392ھ بمطابِق 1002ء کښې مُکمّل شو، دغسې د قُرطُبه د تارِيخي جُمات په تعمِيري [يعني د جوړولو په] کار کښې زيات و کم د دوو سوو کالو موده اُولګيده. **د قُرطُبه عظِيمُ الشّان مشهور جامِع مسجِد اګرچې د تارِيخي آثار په حيثِيَّت اوس هم موجود دے خو افسوس په کړونو افسوس! د مسلمانانو د بدو اعمالو په وجه هلته په نمانځه کولو پابندي ده، خو سَيل کوونکي (TOURIST) صِرف د کتلو د پاره راتلے شي.**

## د اَتلَّسو کالو نه د کم عُمر ځلمو جُمات ته داخليدل بند

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! افسوس! زمونږ د ګُناهونو سپيره والے ورځ په ورځ زياتيږي، د دُنيا په يو داسې مُلک کښې چې هلته د مُسلمانانو آبادي 90 فيصَده بيانيږي، هلته د بے عَمَلۍ داسې زبردست سيلاب راغلو چې اوس د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** 1432ھ جون 2011ء د يو اخباري رپورټ مطابق د اتلّسو کالو نه د کم عُمر ځلمو د پاره په جُمات کښې په نمانځه کولو قانوني طور پابندي لګولے شوې ده!!!

آه! اِسلام ترے چاہنے والے نہ رہے　　　جِن کا تُو چاند تھا افسوس وہ ہالے نہ رہے

آه! دِينِ اِسلامه ستا مِينه لرونکي پاتې نه دي

ته ئې سپوږمۍ ستا ستوري څليدونکي پاتې نه دي

## "جُمات ډک کړئ تَحريک" وچلوئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د جُماتونو په شړيدو ډير خفه شئ، او په ډيره جذبه "**جُمات ډک کړئ تَحريک**" وچلوئ او په يو يو بيلمانځه اِنفرادي کوشش اوکړئ او نمونځ ګُزاره ئې جوړ کړئ او دغسې د خپلو جُماتونو حِفاظت هم اوکړئ څکه چې په کوم کور کښې د هغې اوسيدونکي موجود وي په هغې هيڅ څوک هم قبضه نه شي کولے، ګنې په خالي کور خلق قبضه کوي څنګه چې د فارسۍ مَتَل دے *خانۂ خالی رادیوِی گیرَد* يعني "په خالي کور باندې پيريان قبضه کوي" بهرحال چې کوم جُمات په نمونځ ګُزارو آباد وي د هغې طرف ته په ناپاکه اِراده د کتلو نه مخکښې به دُښمن 420 ځله سوچ کوي. دلته دا يوه مسئَله ياده ساتئ چې په يو ځائے يو ځل شرعاً جُمات جوړ کړے شو نو هغه به تر قِيامته پورې جُمات وي. د **تَحتَ الثَّرٰی** (يعني د اوومې زمکې د لاندې) نه واخله د عرشِ مُعَلّٰی چې هغه د اووه واړو اسمانونو نه هم پاس دے د هغه ځائے پورې د هغې ټوله فضا [يعني هوا] هم جُمات دے. اوس که **مَعاذَالله** په هغې سړک جوړ کړے شي يا پرې مارکيټ جوړ کړے شي، هغه ځائے به د قيامته پورې صِرف د جُمات په حُکم کښې وي او د هغې اِحتِرام به هم برقراره وي. چنانچه اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، **مُجَدِّدِ** دِين و مِلّت مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رحمۃ اللہ علیہ د "**تنوِيرُ الاَبصار او دُرِّ مُختار**" په حواله نقل کوي: **وَلَوْخَرِبَ مَاحَوْلَهٗ وَاسْتُغْنِیَ عَنْهُ یَبْقٰی مَسْجِدًا عِنْدَ الْاِمَامِ وَالثَّانِیْ اَبَدًا اِلٰی قِیَامِ السَّاعَةِ وَبِهٖ یُفْتٰی** او که د هغې (يعني جُمات) اخوا ديخوا [ځائے] شړ شي او د هغې ضرورت پاتې نه وي نو هُم جُمات به [په خپل ځائے] پاتې وي او د اِمام صاحِب (يعني اِمام اعظم ابُوحَنِيفه) او اِمامِ ثاني (يعني اِمام ابُو يوسُف) په نِزد هميشه د قيامته پورې [هغه ځائے جُمات دے]، او هم په دې فَتویٰ ده. (تنوِیرُالاَبصار و دُرِّمُختار ج6 ص550. فتاوٰی رَضَوِیّه ج9 ص471) **وَقَارُ المِلَّت** حضرتِ عَلّامه مولانا مُفتي **مُحَمّد وَقارُ الدِّين قادِري رَضَوي** رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: "کوم ځائے چې يو ځل جُمات جوړ کړے شي هغه د قيامَته پورې داسې جُمات شي چې بره د عرشه پورې او لاندې د **تَحتَ**

الثَّرىٰ پورې جُمات دے په دې کښې یو اِنچ ځائے (هم) نه شي کميدلے." (وقارُالفتاوٰی ج2ص297)

کر مسجِدیں آباد تری قبر ہو آباد
فِردوس عطا کرکے خدا تجھ کو کرے شاد

آباد کړه جُماتونه ستا دې قبر شي آباد
فِردوس دې شه نصيب، الله دې کړي تا ښاد

اٰمِين بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰى مُحَمَّد

# د اِنفِرادي کوشش بَرَکت

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه دعوتِ اِسلامي جُماتونه آبادوي، تاسو هم په جُماتونو آبادَوَلو خپل خفه زړه خوشحاله کړئ، د خپل **ربّ تعالٰی** د يادَوَلو د پاره پينځه وخته جُمات ته د حاضريدو جذبه حاصلولو د پاره او د خپل زړه وران کور په عَشقِ رسُول آبادَوَلو د پاره د **دعوتِ اسلامي دِيني ماحول** سره خپل تړون مضبوط ساتئ. په **مَدني قافِلو** کښې د سُنَّتو ډک ډير ډير سفر کوئ او د [خپلو اعمالو د] "**جائزه**" اخستلو په ذريعه هره ورځ د "**نیک اعمال**" رِساله [کښې خانې] ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے د دعوتِ اسلامي ذمّه دار ته جمع کوئ، راځئ چې ستاسو د ترغيب او تحريص [يعني د نيکو د حِرص راپيدا کولو] د پاره تاسو ته يو **مَدَني سپرلے** واوروم: د کراچئ اوسيدونکي يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چې: زه د ګناهونو په درياب کښې ډوب ووم او د خپل ژوند "بے بها ملغلرې" مې د غفلت په وجه بربادَوَلې، **د نيمې نيمې شپې پورې د دوستانو سره په ګپ شپ کښې مصروفه اوسيدل زما معمول وو.** په 18 رَمَضَانُ الْمُبَارَک 1429ھ بمطابق 19 ستمبر 2008ء د خپل معمول مطابق مونږه ټول دوستان راجمع شوي وو او په ټوقو ټقالو کښې مشغول وو، **په دې وجه زمونږ په مجلِس کښې د ټق ټق خندا جاري وه،** په دې کښې د دعوتِ اسلامي سره تعلُّق لرونکي يو عاشِقِ رسُول زمونږ خوا ته

تشريف راوړو، هغوئي سلام اوکړو او کښيناستلو ، د هغوئي د راتګ سره زمونږه په **محفِل** کښې لږه سنجيدګي راغله، هغوئي مونږ ته ډير ښکلي مَدَني ګلونه واورَوَل، **د هغوئي د ښکلي آواز او د مَدَني انداز په وجه مونږه د هغوئي په خوږو خبرو کښې ورک شو.** لږ ساعت پس هغوئي د بيرته تلَلو د پاره پاڅيدلو نو مونږه ورته عرض اوکړو: وروره! لږ ساعت نور کښينئ! او مونږ ته ښې ښې خبرې وښائې، د نيکئ د دعوت جذبه لرونکي اسلامي ورور زمونږه درخواست قبول کړو. د خبرو په دوران کښې د فِکرِ آخرت او د اِصلاحِ اُمَّت په موضوع هم خبرې وشوې، د هغه عاشِقِ رسُول د تاثِير نه ډک **اِنفِرادي کوشش** زمونږه په زړونو ډير اثر اوکړو. بله شپه مونږه بيا هم په هغه ځائے **محفِل** جوړ کړے وو او د هغه اسلامي ورور په اِنتِظار وو، زمونږ د اُمِّيد مطابق هغوئي تشريف راوړو او مونږ ته ئې د دعوتِ اسلامي عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** ته د تلَلو دعوت راکړو، د هغوئي د کردار او ښکلو خبرو په وجه کم از کم ما خو انکار ونکړے شو او د هغوئي سره د **فيضانِ مدينه** پاکې فضا ته ورسيدم. د خوفِ خُداعزَّوجَلَّ او عِشقِ مُصطفٰیصَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جذبه په زړه کښې رابيدارَوَلو والا او رُوح تازه کوونکي دِيني ماحول زما په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته کړو او دغسې د هغه عاشِقِ رسُول د "**اِنفِرادي کوشش**" په بَرَکت ما ته د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول رانصيب شو.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مُحَدِّثِ اعظم پاکستان اِنفِرادي کوشش

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چې! د اِنفِرادي کوشش څومره زبردستې نتيجې را اُوځي! د سګِ مدينه عُفِیَ عَنْہُ خپله تجربه هم دا ده چې اِجتِماعي بيان ډير ځله د اوريدو سره هم چې په چا کښې بدلون نه راځي، هغه په لږ شان **اِنفِرادي کوشش** بدل شي. د نيکئ په دعوت کښې د اِنفِرادي کوشش خپل يو جُدا مقام دے. انبياءِ کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام چې څنګه د تبلِيغ دِين د پاره اِجتِماعي کوششونه فرمائيلي دي هم دغسې ئې اِنفِرادي کوششونه هم کړي دي او يو يو ته ئې جُدا جُدا هم د اسلام پيغام رسولے دے. بُزُرګانِ دِين رَحِمَہُمُ اللہُ عَلَیْہِم هم **د نيکئ د**

**دعوت** د پاره ښه ډېر ډېر اِنفِرادي کوششونه کړي دي چنانچه مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت علّامه مولانا سردار احمد رحمۃ اللہ علیه په ملتان شريف کښې وو، په دې دوران کښې درې ځلمي د هغوئي رحمۃ اللہ علیه مُريدان جوړ شو، هغوئي رحمۃ اللہ علیه هغوئي ته په مسلک اهلِسُنَّت باندې د قايم اوسيدو، د دې د تبليغ کولو او پينځه وخته نمونځ د جَمعې سره د کولو نصِيحت اوکړو. بيا ئې هغوئي ته د **ګِيرې** پريښودَلو او د بريتو وړو کولو په ډېر ښکلي انداز کښې داسې حُکم اُوفرمائيلو چې څنګه په نمانځه کښې وِتر واجِب ګڼې هم دغسې ګِيره غټول هم واجِب وګڼئ، يو مُوټے ګِيره پريښودل واجِب دي د دې خِلاف کولو يعني وړه کولو باندې به ګناه او عذاب کيږي، د حضرتِ مُحَدِّثِ اعظم رحمۃ اللہ علیه ښکلي نَصيحت په هغوئي ډېر اثر اوکړو او هغوئي ګِيرې پريښودلې. اوس هغوئي بِحَمدِهٖ تعالیٰ د شَرِيعت پابند دي او ډېر عِزّت لرونکي جوړ شوي دي.

(حياتِ مُحَدِّثِ اعظم ص89)

سرکار کا عاشِق بھی کیا داڑھی مُنڈاتا ہے! کیوں عشق کا چِہرے سے اظہار نہیں ہوتا

(وسائلِ بخشش ص ۲۳۴)

د حضور عاشِق هم ګنې خَرَوي ګِيره　　　د عِشق نښه ئې په مخ ولې نه ښکاريږي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شيخ طريقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِيَه او خليفهٔ امیرِ اهلِ سُنّت الحاج ابو اُسَيد عُبَيد رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د يوې رسالې لوستلو يا اوريدلو ترغيب ورکولے کيږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خويندې دا رساله لولي يا اوري او د امیرِ اهلِ سُنّت او خليفهٔ امیرِ اهلِ سُنّت د دعاګانو حقدار جوړيږي. دا رساله په آډيو کښې د دعوت اسلامي د ويب سائټ

www.Dawareislami.net يا د Read and listen Islamic book ايپلي کيشن نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي. د ثواب په نيّت يې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحومينو د ايصالِ ثواب دپاره يې تقسيموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-634-4

01082480

فيضانِ مدينه محلّه سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92

0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net